AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۱/۰۲/۲۷

# د استاد رښاګل اریوبزي علمي فرهنګي هڅې

## او د کوچنیانو ادبیاتو ته يې پاملرنه

### دریمه برخه



**په دې مقاله کې به د استاد رښاګل اریوبزي بیوګرافۍ ته ځنګ، لومړی د ده پر علمي شخصیت او په هیواد کې دننه او تر هیواد د باندې د ده پر ترسره کړو علمي فرهنګي کارونو رڼا واچول شي او بیا به په ځانګړې ډول د ده پر هغو هڅو وغږېږم چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې ترسره کړې دي.**

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه چې استاد رښاګل اریوبزي په افغانستان کې، د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې ډېر څه لیکلي دي، چې ځینې مقالې يې ما په کابل، عرفان او اجتماعي علوم مجلو کې لدلي او لوستلي دي چې له بده مرغه اوس زما په واک کې نه شته.

دلته په اروپا کې يې هم د پام وړ علمي کارونه ترسره کړي دي چې په:

ـ افغان جرمن پورټال،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ـ نهيمي دات دي كو،

ـ دعوت ميديا،

ـ او ځينو نور ويبپاڼو کې زما له نظره تېرې شوې دي.

کوم څه چې استاد رڼاګل اریوبزي په اروپا کې لیکلي، ژباړلي او خپاره کړي دي او زما له نظره تېر شوي په نورو ویبپاڼو کې خو نه پوهېږم چې د استاد اریوبزي څه شمېر مقالې به خپرې شوې وي، خو په افغان جرمن پورتال کې یې د دې کرښو تر لیکلو (۲۰۲۱/۰۲/۱۲) یې څلیریشت (۲۴) مقالې خپرې او د ده په ځانګړي ارشیف کې خوندي دي

دغه راز د دوو جلا آثارو نومونه یې هم د یادونې وړ دي چې همدا اوس په افغان جرمن پورتال کې په پرلپسې ډول د خپرېدو په جال کې دي:

۱ ــ د خوشال ختک عقیده او سیاسي فلسفه،

۲ ـ د خدای د مخلوق په خد مت کی د فخر افغان ژوندون او د خدایی خد متګارو بی تاوه یا څون.

**۲ ــ د کوچنیانو له پاره د استاد رڼاګل ژباړې:**

استاد رڼاګل د خپلو فرهنګي فعالیتونو په لړ کې ماشومان او کوچنیان هم نه دي هېر کړي او په عمدي ډول یې د یوه عیني اړتیا له مخې دې مسألې ته پاملرنه کړې ده او له جرمني ژبې نه یې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره ژباړې ته ملا تړلې ده. د ده د وینا په استناد تروسه ده اته کیسې راژباړلې دي.

پښتو ژبې ته دغه راژبړل شوې کیسې په جلا، جلا ویبپاڼو کې خپرې شوې دي. د ساري په توګه ما تر اوسه په افغان جرمن پورتال کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د دوې پنځه راژباړل شوې کیسې لیدلې دي چې سرلیکونه یې دا دي:

ـ هغه پش چې موزې یې په پښوکړې (د کوچنیانوله پاره لنډه کیسه)،

ـ هوښیارخان د بخت په ځپو کې (د کوچنیانوله پاره لنډه کیسه)،

ـ د بریمن څلور ښاري سازیان (د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه)،

ـ غرڅنی او بریخ (د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه)،

ـ د اغزیو ګلاب (د کوچنیانو له پاره لنډه کیسه).

دغه راز په دعوت میډیا نومې ویبپاڼه کې مې هم د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د دوې راژباړل شوې کیسې لیدلې دي چې شمېر یې پنځه او سرلیکونه یې دا دي:

**ـ خوږه حلوا،**

**ـ سور خولی،**

**ـ غرڅنی او بریخ،**

**ـ د اغزیو ګلاب،**

**ـ هوښیارخان د بخت په ځپو کې.**

دلته لیدل کېږي چې ټول سرلیکونه یو نه دي او دواړو سایټونو کې توپیر او ورتوالی سره لري.

د کوچنیانو د ادبیاتو ارزښت په دې کې دی چې د نوي نسل په روزنه کې تر هر څه مهم او ارزښتمن رول لوبوي. که د ماشومانو او کوچنیانو روزنې، سواد زدکړې، تحصیلاتو او په تېره د دوی ادبیاتو ته پام و نه شي؛ داسې څه به


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته ورنه جوړ شي چي ټولته او په هغې ټولنه کي څو نسلونه به د بربادی کندې ته ورپوري وهل شي چي ښه مثال يې افغانستان دی. په همدې مورد کي زما د خپروو شوو نظرياتو په لړ کي يو ځای داسي راغلي دي:

«له جګړې نه د رازېږيدلو نا خوالو په اړخ کي زموږ د ټولني تر ټولو ستره غميزه دا ده چي د پرمختګ او تکنالوژۍ په دې عصر کي موږ د خپلي ټولني تر ټولو اساسي برخه (کوچنيان) هير کړي دي او زموږ په وطن کي د ټولني تر ټولو له پامه لويدلي برخه همدا کوچنيان جوړوي. البته دا خبره يوازې په خوارو او نيستمنو کورنيو باندې صدق نه کوي، بلکي په عام ډول په ډيری افغان کورنيو باندې يې د يوې توري بلا په څير سيوری غوړولی دی.

جګړه، کرکه او نا باوري د ټولني د اکثريت په ذهن او ضمير باندې داسي حکومت کوي چي هر څه مو په جګړې پيل کيږي او په جګړې پای ته رسيږي. هر څه ته په کرکه او بې باوری ګورو. همدا دليل دی چي د ټولني اکثريت له کتاب او قلم نه ټوپک او وهلو ټکولو سره عادت شوي دي او له نا چاره يې لکه سيوری ځان سره ګرځوي. د ګران دوست احسان آرينزي د سترګو ليدلی حال دی چي:

«... په هغه شيبو کي چي زه د دې خان صيب له کوره وتلم، له دوی څخه مي هيله وکړه چي يو قلم او کاغذ راوړي چي زه خپلي پتې او تليفون نمرې ورته وليکم؛ خو تاسو ښاغلي لوستونکي باور وکړي په هغه کور کي يو قلم ونه موندل شو چي يوازی د ميلمنو په حجره کي يې ديارلس کلاشينکوفونه او ماشينونه ځوړند وو او کتار وزمي دومره پريمانه وي لکه د عبادت تسبيح!»

د ټولني لوستي مو د علم، ادب او هنر مطالعې ته دومره ليواله نه دي، لکه د نظامي ماتو او بريو لوستلو او د سياسي غولونکو کتابونو، مقالو او شعرونوته چي ليواله دي. که يې نه منئ، د مثال له پاره په ټاند کي يو غولونکی، تير ايستونکی سياسي نظامي مطلب او يو ښکلی شعر او يا طنز په نښه کړئ، وروسته له څو ساعتونو او يا دوه درې ورځو يې بيا لاندنی برخي ته مراجعه وکړئ چي کوم مطلب ډير لو ستل شوی دی.
دا اوس په عام ډول يو منل شوی حقيقت دی چي «کلتور ديوه جامع (هر اړخيز) مفهوم په توګه د مادي او معنوي ارزښتونو ګډه ټولګه ده ...»( ب. ی. کانونيکه اوم، ګ بلدريوا، کلتور پوهنه، ژباړن: دوکتور لطيف بهاند، ناشر: د افغانستان علمي تحقيقاتي مرکز، ماسکو، ۲۰۰۰م کال، ص ۵۸)

د نړۍ او د انسانانو د پيداښت له پيل نه بيا تر نن پورې، له ټولو مادي او معنوي لاس ته راوړنو او تجربو نه دا پايله تر لاسه شوې ده چي د يوې ټولني راتلونکي آبادي، ښيرازي او پرمختګ د هغه د نوي نسل په ښه روزنه او دغه نوي نسل ته جدي پاملرني پورې اړه لري. داسي پاملرنه چي نوی نسل د وخت له ټولو علمي غوښتنو سره سم له نوې تکنالوژۍ سره اوږه په اوږه د خپلو ملي ارزښتنو، ملي کټو او تاريخ په رڼا کي داسي وروزل شي چي نه يوازې په راتلونکي کي هغه د مور پلار، کورنۍ او ټولني پر اوږو بار نه وي، بلکي هغه يو پوه، زدکړی، مولد او داسي انسان وي چي د خپلي ټولني او خلکو لارښوونه هم وکړای شي.

دې ته مو پام وي چي رهبران نه ښنه کيږي او نه هم له آسمانه رالويږي، بلکي همدغه د نن ورځي ماشومان دسبا مور پلار هم دي، رهبران هم دي، مخترعين هم دي، خاينين هم دي، جګړه مار هم دي، سوله خوښونکي هم دي او په پای کي د دې دنيا ورانونکي او جوړونکي هم دي. که سم وروزل شي، د خلکو او وطن مينه، د انسان مينه او عاطفه ور زده کړای شي، نو بيا به يو ښه او مثبت انسان وي او که برعکس وي نو بيا ګورئ يې چي زموږ په ټولنه کي يې بيلګي څومره ډيرې دي...»

زموږ په ټولنه کي دا پاس ترخه حقايق او نيمګړتياوې شته او د دې نيمګړتياوو د رفع کولو له پاره د ټولنيز ژوند په ټولو ډګرونو کي بايد کار وشي، څو نوی نسل په سمه توګه وروزل شي، اوسنی او راتلونکي نسلونه له دې ستونزو وژغورل شي او دا رسالت تر ټولو مخکي ادبياتو ته ورله غاړې دی.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ